# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد*

*همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



بسمل


۲۹ جنوری ۲۰۱۲

## خپـــه نـــــه شي بســــــمله



جانانه اوس دي هم لا په یادونو کي ساتم

هرګام په اغزو ږدم خو تا ګلونو کي ساتم

دصبر سمندر یم له توفان سره غیږ باسم

غنچي دښکلا ګانو دي موجونو کي ساتم

دوخت اژدها ژا مي که هرڅو کړي پر ما تینګي

ته مه وارخطا کیږه تا وزرونو کي ساتم

بایلل دزړګي توکي نه دي چیري دي ځان ورک کړ؟

وعدي دي جانه تولي یاداشتونو کي ساتم

اشنا له کوځي  تیر کړه رنګ یي هیر کړه هغه ته وي؟

زه ستا په ډول نه یم ځان ننګونو کي ساتم

په ناز او ادا راغلي دزړه کور ته مي دننه

هر ناز دې نازولې په نازونو کې ساتم

نورڅه راسره نه وو یو څه و هغه مې درکړ
له تا مې زړګی جار اوس ځان دردونو کې ساتم

رانغاړم ځان پېچم ستا دغمونو سلسلو کې
تصویر دې په ما ګرانه ګلابونو کې ساتم

خپه نه شې بسمله زما اوستا یارانه نه شي
ته ګرزه په سحرا زه ځان ښارونو کې ساتم